آریائی

www.ariaye.com
what ariaye site is about
NEWS REVIEWS EVENTS FEATURES

# اروابناد ملنګ جان زموږ دهیواد خوږ ژبې، حماسي او اولسي شاعر:

ماد اروابناد ملنګ جان یو شمیر شعرونه د انځور په شکل ترتیب کړي دي ستاسو دادب مینه والو پام ورته را اړوم .






# غزل

که په عشق کې مزې غواړې لوغړن لکه پتنګ شه

پس له مرګه به ښایسته شي سوداګر د نام و ننګ شه

که دې سر غواړې چې سر شي صدقه کړه سرناموس نه

که سرې شونډې د یار غواړې د خپل ځان په وینو رنګ شه

پخواني هم ستا په شان وو ته هم پاڅیږه همت کړه

حریت لیلی لپاره کند کچکول واخله ملنګ شه

ننګیالي چې یوخوا مخ کړي په شا نه ځي که پرې ومري

عزم ټینګ ساته په زړه کې خپل هدف ته په غورځنګ شه

که ترخې له ځینو اورې غوړ پرې کوڼ کړه(( ملنګ جانه))

ویښوه ویده زلمیان خپل، له نا اهلو نه په څنګ شه

شاعر : اروابنادملنګ جان

ترتیب کوونکی : انجنیر عبدالقادر مسعود

# ملنګ شم

زه چـــې راخـــلــمه کچکول او ستا ملنګ شم

نـــوهـــغـــه ســاعت به تېر تر نام وننګ شم

نـــام ونـــنـــګ بـــه وي هغه ځای رانه پاتې

بـــه کوم ځای کې چې زه ستا په تومت رنګ شم

پـــروا نــشــتــه کــه دنــیــا راپــورې خــاندي

مـــا شـــوم نه یم چې نور وخاندي زه تنګ شم

ســتــا پــه عشق کې که ستي شمه په اور کې

فـــخـــر کـــانـــدم کـــه زه یــاد لکه پتنګ شم

مـــا چـــې عزم ستا د سپین رخسار دی کړی

وابـــه نـــه وړم کـــه په وینو کې رنګ رنګ شم

پـــه شـــا تـــلـــل د مـــېـــړنـــیـــو بدنامي ده

اوس بـــه زه(( ملنګ جان)) څه رنګه په څنګ شم

شاعر : اروابښادملنګ جان

ترتیب کوونکی : انجنیر عبدالقادر مسعود